هفته نامه
# معارف
اوونیزه
روزل شوی نسل نیکمرغه افغانستان
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۴ ماه قوس سال ۱۳۹۶

## نخستین نشست خانم اول با معلمان شهر کابل در ارگ دایر شد

نخستین نشست خانم اول با معلمین اناث شهر کابل، با اشتراک سرپرست وزارت معارف، رئیس تربیه معلم و رئیس پالیسی و پلان وزارت معارف و شماری از معلمین اناث در ارگ ریاست جمهوری تدویر شد.

در این نشست نقش معلمین در ترویج و تحکیم صلح اجتماعی به بحث گرفته شد.

خانم اول در سخنرانی خویش، ضمن اینکه به نقش معلم در تربیت افراد و شکل‌گیری فرهنگ سالم در جامعه اشاره نمود، تأکید ورزید که آگاهی عامه در مورد صلح باید از مکتب‌ها، پوهنتون‌ها و سایر نهادهای آموزشی آغاز گردد.

وی افزود: خدای تعالی برای زنان، توانایی طبیعی میانجی داده است که می توانند از آن به هدف جهت‌دهی آگاهی عامه در راستای تأمین صلح، استفاده مؤثر نمایند.

محترمه بی‌بی‌گل غنی ادامه داد که زنان، به ویژه معلمین، نباید نقش خود را در تأمین صلح اجتماعی نادیده گرفته و خاموشی اختیار نمایند.



وی همچنین به نقش اساسی زنان در محیط خانه که می‌تواند باعث تأمین و حفظ صلح در جامعه شود، اشاره نموده گفت که زنان باید با جرأت وارد عمل شده و در تبدیل اختلافات به بحث‌های منطقی سهم بگیرند.

خانم اول همچنین... (ص۲)

## ستارهٔ معارف برگزیده شد

طی محفلی با شکوهی که با حضور محترم دکتور محمد شفیق صمیم معین تعلیمات اسلامی وزارت




معارف محترم رحیل محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف در حالیکه تعدادی از رؤسای ادارات مرکزی این وزارت، مهمانان، شماری از استادان و شاگردان نیز اشتراک داشتند، از میان شاگردان ممتاز ستاره معارف برگزیده شد. ابتداء محترم دکتور محمد سعید منصور رئیس معارف شهر کابل تشریف آوری محترم دکتور محمد شفیق صمیم و محترم رحیل محمد فرملی، هیات رهبری و سایر مهمانان را خیر مقدم گفته و در پیوند به گزینش ستاره معارف که از جمع ۱۵۰ هزار متعلمین صنف یازده اعم از ذکور و اناث از آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۶ تا اکنون به هدف انتخاب ستاره معارف «سال» در ۱۶ مرحله امتحان اخذ گردیده بود، معلومات مبسوطی ارایه داشتند .

موصوف افزود: «امروز از سه تن این شاگردان که توانستند از آزمون ۱۶ مرحله یی مؤفقانه بدر آیند، با داوری هیأت متشکل از اسادان با تجربه و در محضر اشتراک کنندگان محفل و خبرنگاران مقام های اول – دوم و سوم را حرار خواهند نمود».

متعاقباً محترم دکتور محمد شفیق صمیم معین تعلیمات اسلامی این وزارت نیز طی سخنرانی عالمانه از این اقدام رهبری به نیکویی یادآور شده و رقابت های سالم علمی را میان شاگردان معارف مثمر دانسته، افزودند: اینگونه مسابقات شاگردان وجوانان ما را به تلاش های بیشتر در جهت آموزش بهتر تشویق و ترغیب... (ص۲)

## د پوهنې د تشکیل د سمون او اصلاح په اړه غونډه وشوه

د پوهنې وزارت د رهبري پلاوي ځانګړې ناسته، چې موخه یې د تشکیل د سمون او اصلاح پروسې پیل او تکمیل دی د جمعې پر ورځ جوړه شوه. په ناسته کې د ایشیا فونډېشن موسسې استازو، چې د معارف د تشکیل پر اصلاح کار کوي هم برخه لرله. د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد ابراهیم شینواري وویل، چې د وزارت اوسنی تشکیل او د دندو وېش په هېڅ صورت د پوهنې ننۍ اړتیاوې نه شي پوره کولای. هغه ټینګار وکړ، چې له ښوونځي نیولې تر وزیره پورې باید چارې بدلون ومومي، صلاحیتونه ووېشل شي او هرڅه له یوه مېزه اداره نه شي. د نوموړي په وینا پوهنه هغه مهال وده کولای او ستونزو ته پر خپل وخت ځواب ویلای شي، چې تر ښوونځیو او مدیرانو پورې صلاحیتونه معلوم شي او هېڅ ستونزه دومره ونه غځول شي، چې تر حل کېدو پورې د لا نورو ستونزو لامل ګرځېدلې وي. د رهبرۍ پلاوي نورو غړو هم په ورته وخت کې هر یوه پر دې ټینګار وکړ، چې لومړی باید اصلاحات رامنځته... (۲مخ)

## استادان تعلیمات تخنیکی و مسلکی جهت ارتقای ظرفیت به بیرون از کشور اعزام می شوند

پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت



معارف در محفل برگزاری دور نخست برنامه چهارساله ارزیابی شایستگی استادان تعلیمات تخنیکی و مسلکی_آموزش‌های داخل خدمت و بین‌المللی که در تالار کتابخانه انستیتوت ملی اداره و مدیریت «نیما»، برگزار گردیده بود، اشتراک کرد.

در این محفل ۷۶ تن از استادان رشته‌های محاسبه اداره و تجارت انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی مرکز و ولایات پروان، کاپیسا، لوگر، پنجشیر، غزنی و وردک اشتراک کرده بودند. قرار است این استادان پس از ارزیابی در صورتی‌که موفق شناخته شوند و به زبان انگلیسی تسلط کامل داشته‌باشند جهت ارتقای ظرفیت به مدت یک سال به بیرون از کشور اعزام گردند و آنعده استادانی‌که به زبان انگلیسی بلدیت ندارند، در داخل کشور ارتقای ظرفیت خواهند دید.

پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، در بخش از سخنرانی‌اش در این محفل بر بلند بردن کیفیت در معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی تاکید ورزیده، گفت: معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی خود را در راستای ارتقای تعلیمات تخنیکی و مسلکی به لحاظ کمی و کیفی متعهد و مسوول... (ص۲)

## د کندهار ښوونځیو کې د ښاروالیو کمېټې جوړې شوې

کندهار کې د پاک چاپېریال د رامنځ ته کېدو په موخه ښوونځیو کې د ښاروالیو کمېټې جوړې شوي او د شوې دي.

د کندهار د پوهنې رییس عبدالقادر پیوستون وايي، چې دغه کمېټې یادو



کندهار ښاروالی لخوا ورسره د اړینو توکو مرسته هم شوې ده. دغه کمېټې د یو پاک چاپېریال د رامنځ ته کېدو او زده کوونکو ته د پاک ښار او ماحول د اهمیت د پوهاوي په موخه جوړې موخو ته د رسېدو لپاره په ښوونځیو کې جوړې شوې، څو دغه کمېټې له دې لارې وکولای شي د ښوونځي د پاک ساتلو ترڅنګ نورو زده کوونکو ته هم د پاک ... (۲مخ)

سرمقاله:

# ژمنۍ رخصتۍ د نوي ښوونيزکال لپاره د چمتووالي غوره فرصت دی

اوس چې کلنۍ آزموينه تيره شوې او هر زده کوونکی د خپلو ښوونيزو فعاليتونو پايلې د نمرو او په ټولګي کې د درجو په لاسته راوړلو تر لاسه کړې نو زده کوونکو ته پکار ده چې له تير وخت څخه پند واخلي يعنی که چا زيار ايستلی او ښه پايله يې تر لاسه کړې بايد په همدغه لاره خپلو ګامونو ته سرعت ورکړي او هر هغه چا چې په خپلو درسونو کې زيار نه دی ايستلی اوخپل قيمتي وخت بې ځايه تيرکړی بايد په خپلو درسونو کې هڅه وکړي تر څو په راتلونکي کال کې په ټولګي کې تر نورو زياتې نمرې وګټي او په ښه درجه به بريالی شي. ګران زده کوونکي بايد د ژمي په موسم کې چې د هيواد په سړو سيمو کې د دريو مياشتو لپاره ښوونځي رخصت دي ديو منظم مهال ويش سره سم خپل درسونه ولولي، هغه زده کوونکي چې په تيټو ټولګيو کې دي بايد له خپلو مشرانو ورونو، خويندو او له خپلو والدينو څخه مرسته وغواړي او خپل درسونه تکرار کړي، مشران هم بايد د خپلو ورونو او خويندو سره دهغوی په درسونوکې مرسته وکړي دغه عمل د دواړو خواوو په ګټه دی، مشرانو ته پخواني درسونو تکراريږي او واړه ماشومان هم د راتلونکي تعليمي کال لپاره چمتو کيږي. دغه شان زده کوونکي کولای شي دهغو مضمونونو د زده کړې لپاره چې له ښوونکي پرته يې زده کړه ګرانه ده کورسونه ونيسي، له خپلو نورو ملګرو او ټولګيوالو سره په همغږۍ ښوونيزې ټولنې جوړې کړي او يودبل په مرسته اوکمک پرمخ لاړشي، په ځانګړې توګه په هغو سيمو، کليو او بانډوکې چې روزنيز کورسونه شتون نه لري، ياده چاره د حل يواځينۍ لاره ګڼل کيږي ګران زده کوونکي کولای شي د خپلو ديني کتابونو د زده کړې لپاره د جومات له ملا امام څخه زده کړه وکړي او هره ورځ يو يا دوه ساعته په خپلو جوماتونو کې سره جرګه شي. او د مطالعه شويومضامينو او مطالبو په باب خپل نظرونه سره شريک کړي چې ياده چاره د زده کړې لپاره ډير ښه ميتود ګڼل کيږي د دې لپاره چې زده کوونکي د ژمي له رخصتيو لازمه ګټه پورته کړې وي او دغه طلايي فرصت يې له لاسه نه وي ورکړی ضروري ده چې د ځان لپاره داسې يو مهال ويش جوړ کړي چې هغه کې د زده کړې او دکور دکارونو سرته رسولو، لوبو او د خپلو خپلوانو د کتلو لپاره ټول فرصتونه پکې په نظر کې نيول شوي وي ضروري خبره دا ده چې زموږ هغه ګران زده کوونکي چې د تير کاَل په کلنۍ آزموينه کې ندي بريالي شوي بايد ناهيلي نشي او دراتلونکي کال لپاره پوره تياری ونيسي دوی به خامخا کاميابيږي او د ډيرې خوښۍ احساس به ورته پيداکيږي، ځکه هر هغه څه چې سخت په لاس راځي خوند او لذت يې هم زيات وي. ناکامي د برياليتوب زينه ده د ناکاميو وروسته برياليتوب اغيزمن او زيان نه منونکی وي، وايي چې له توماس اديسن څخه چا وپوښتل چې سل ځله د ګروپ په جوړولو کې ناکام شوې نو څه ته لګيايې؟ هغه ورته وويل چې زه ناکام شوی نه يم بلکې ماته په سل ډوله تجربه تر لاسه شوه چې په تجربه شوو لارو چارو ګروپ نه جوړيږي.ناکام هغه څوک دی چې ناهيلی شي، هڅه پريږدي او عاجزي غوره کړي هغه څوک چې له ستونزو سره مقابله کوي لاس او پنجه ورسره نرموي هيڅکله هم نه ناکاميږي پاخه او تجربه لرونکي کسان هغه څوک دي چې د ژوندانه هسکې او ټيټې زغمي له ناکاميو او کړاونو څخه تيريږي او په توره تروږمۍ کې د ستورو په رڼا پل اخلي ګرانو زده کوونکو! ژمنۍ رخصتۍ د نوي ښوونيز کاَل لپاره د چمتووالي غوره فرصت دی چې ګران زده کوونکي بايد ورڅخه پوره ګټه واخلي هر هغه څوک چې په ژمي کې د راتلونکي ښوونيز کال لپاره تياری ونيسي نوپه نوي کال کې به په خپلو درسونو کې بريالی وي او دښوونکي په يوه اشاره به د خپلو درسونو پاينابونوته لاره مومي او ښې پايلې به ترلاسه کوي.

بقیه‌صفحه اول

## نخستین نشست خانم...

در مورد ازدواج‌های زودهنگام که مانع فراگیری تعلیم و تحصیل دختران شده و آنان را از ایفای نقش‌های اساسی‌شان در ابعاد مختلف جامعه، از جمله صلح‌آفرینی، بازمی‌دارد، گفت که معلمین در جهت دادن افکار عامه در این راستا نقش باارزشی دارند که باید آن را عهده‌دار شوند.

در این نشست، نقش معلمین در تأمین و ترویج صلح در مکاتب به شکل تخصصی در میزگرد مورد بحث قرار گرفت و به پرسش‌های اشتراک‌کنندگان پاسخ داده شد .

در ضمن معلمین در مورد نقش‌شان در این راستا تبادل افکار نموده و نظریات خود را جهت روی دست گرفتن شیوه‌های مختلف برای ترویج صلح اجتماعی ارائه نمودند.

محترمه بی‌بی‌گل غنی در زمینه عملی شدن پیشنهادات اشتراک‌کنندگان، به آنان اطمینان داده گفت که نتایج بحث‌ها و پیشنهادات با نهادهای ذی‌ربط شریک ساخته خواهد شد.

سرپرست وزارت معارف در این نشست ضمن اعلام حمایت از دستاوردهای این نشست، گفت که وزارت معارف در عملی‌شدن پیشنهادات همکار خواهد بود.

بقیه‌صفحه اول

## ستارۀ معارف...

نموده و از جانب دیگر برای رشد استعداد های آنها نیز بسیار موثر می باشد. بعداً شاگردان مذکور در حضور شرکت کنندگان و هئیت ژوری به سوالات مطروحه جوابات قناعت بخش ارایه داشته که در نتیجه محمد نذیر فرزند غلام حسن از لیسه همایون شهید مقام اول و لقب ستاره معارف را کسب نمودند و هم چنان محترمه شهیره بنت محمد اکبر و لیمه بنت عبدالرحمان شاگردان لیسه عبد الاحمد جاوید به ترتیب مقام های دوم و سوم را نصیب شدند. شایان ذکر است که ستاره معارف با اهدای یک عراده موتر نوع سوزوکی مورد شفقت و تفقد وزارت معارف قرار گرفتند و برای دو تن دیگر تحایفی اهدا گردید.

بقیه‌صفحه اول

## استادان تعلیمات تخنیکی...

دانسته و از استادانی که قرار است پس از ارزیابی از برنامه‌های ارتقای ظرفیت مستفید شوند، صمیمانه تقاضا می‌کنم که از فرصت‌های پیش‌آمده در راستای خدمت به معارف و اولاد وطن استفاده بهینه نمایند.

همچنان آقای فرملی در قسمت اصلاحات روی‌دست در تعلیمات تخنیکی و مسلکی، پیشرفت‌ها و دست‌آوردها در این سکتور و چالش‌ها فراروی اصلاحات روی‌دست نیز صحبت کرد.

بر اساس برنامه‌های اصلاحی معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی، پلان سوم استراتیژیک ملی معارف و اصلاحات پیشنهادی شورای عالی منابع بشری، قرار است طی چهار سال آینده ۲۵۰۰ تن از استادان رشته‌های مختلف انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی در سراسر کشور، مورد ارزیابی قرار گیرند؛ از این میان بر اساس نتایج ارزیابی ۳۰۰ تن از استادان شایسته که به زبان انگلیسی مسلط باشند به هدف ارتقای ظرفیت و فراگیری آموزش‌های مسلکی بین‌المللی به بیرون از کشور اعزام خواهند شد و ۴۰۰ تن دیگر که دارای مهارت‌های مسلکی بلند باشند اما با زبان انگلیسی آشنایی نداشته باشند؛ بعد از ارزیابی به آموزش‌های مسلکی داخل خدمت، معرفی می‌شوند.

برنامه ارزیابی شایستگی استاتید که به کمک مالی و تخنیکی بانک جهانی از طریق پروژه انکشاف مهارت‌های افغانستان در معنیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی راه‌اندازه گردیده است در مدت ۴ سال عملی خواهد شد، که دارای اهداف ذیل می‌باشد:

۱- اصلاحات در سکتور تعلیمات تخنیکی و مسلکی به هدف ایجاد شغل.

۲- انکشاف ابزار و روش‌های ارزیابی شایستگی استادان تعلیمات تخنیکی و مسلکی بر اساس تقاضای بازارکار.

۳- آموزش استادان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی شایسته در خارج از کشور.

۴- حمایت و نظارت از فعال ساختن انستیتوت اکمال تخصص به عنوان مرکز ارزیابی استادان و ارتقای ظرفیت آنان در داخل کشور.

۵- شناخت از سطح دانش، مهارت و زبان انگلیسی استادان تعلیمات تخنیکی و مسلکی به هدف ارتقای ظرفیت آنان.

د لومړي مخ پاتې

## د پوهنې د تشکیل...

شي، بيا د هر لوري او چارواکي مسئوليتونه مالوم شي او ترڅنګ يې د صلاحيت او مسئوليت پر بنسټ د پوښتنو او ريوټ اخيستو داسې منظم پروګرام پيل شي، چې موجوده ستونزې تکرار نه شي او د نويو مخه هم ونيول شي. د پوهنې وزارت رهبرۍ په هيواد کې د پوهنې د نويو پروګرامونو د عملي کېدو او ښوونځيو ته د لا ډېرو زده کوونکو د جذب په اړه مجلس وکړ. د يادونې وړ ده، چې معارف د هيواد د ولسمشر تر مشرۍ لاندې د بشري ځواک عالي شورا ته خپل داسې اغېزناکه طرحه وړاندې کړې، چې پر بنسټ به يې په مختلفو برخو کې د شته ستونزو د حل لپاره عملي کار وشي.

د لومړي مخ پاتې

## د کندهار ښوونځيو...

چاپېريال د رامنځ ته کېدو په اړه لارښوونې وکړې. دغه کمېټې زده کوونکو ته ښيي، چې نه يوازې د خپل ښوونځي چاپېريال بلکې د خپل کور او ښار چاپېريال ته هم بايد ځانګړې پاملرنه وکړي.ښاغلي پيوستون له زده کوونکو وغوښتل، چې د ښوونځي، کور او ښار د يوه پاک او زرغون چاپېريال د رامنځ ته کېدو لپاره يو بل ته لاسونه ورکړي او په دې برخه کې جدي هلې ځلې ترسره کړي.

## تدویر ورکشاپ مشورتی

ورکشاپ مشورتی تدوین و طرح پلان ستراتیژیک سه ساله ملی یونسکو طی صحبت افتتاحیه محترم سردار محمد رحیمی معین سواد آموزی وزارت معارف به کار آغاز کرد.در این محفل روئسای وزارت معارف، محترم شاکر حبیب یار رئیس یونسکو و آیسسکو، نماینده مؤسسه مذکور مقیم افغانستان، مهانان داخلی و خارجی اشتراک داشتند. در این ورکشاپ به تعداد ۶۰ تن به نماینده گی از معاونیت دوم مقام ریاست جمهوری، ریاست محترم اجرائیه، وزارت های معارف، تحصیلات عالی، اطلاعات و فرهنگ، کار و امور اجتماعی، شهدا و معلولین، امور خارجه، ریاست مستقل حقوق بشر افغانستان، جامعه مدنی و شبکه زنان افغان اشتراک نموده که پیرامون طرح و مسوده پلان استراتیژیک سه ساله کمیسیون ملی یونسکو و آیسسکوی افغانستان بحث و گفتگو نموده و نظریات تکمیلی خویش را در پیوند به این طرح ابراز نمودند.در اخیر ورکشاپ نماینده موسسه یونسکو تعهدات خویش مبنی بر تداوم همکاری های شان به وزارت معارف تأکید نمودند.

## بې مثاله

زه ګلونــــه لټومـــــه پـــــه بــــاغچو کـــې
هر وخت ډکې کړم منګولې په اغزوکې
بې مثاله خداى پيدا کړې په دنيا کې
خومره خوند دى ستا د سترګو په کتو کې
شورمشـور سـتا د پـازېبو هــــلته خپور شو
دلتـه مسـت شـو لېـونى پـه زولنـو کـې
يرغلګــر مـې پسـې واخېسـتل تــر کـــوره
ځکـه ډېـر رانـــه ډاريـږي پـــه زانګـوکې
ستا د مينې لېـــونيان خــــو يـاره ډېـر دي
(منګل) شـــمېره لـــيونى پـــه لېونو کې

رالېږونکى: حميد

## تصوير

ستا د ښايست تصوير ته ګورمه مصرې جوړوم
په زمانه ستا د ښايست ښکلې کيسې جوړوم
کله پرې رسي دا زما نيمګړى شعر و غزل
نـور بـه د ښـکليو پـه ډېـره مشـاعرې جـوړوم
د جانان غمه چې راځې په غوغاګانو راځه
ستا پـه يـادونو کې د اوښکو فـوارې جـوړوم
ملامـت نـه دي چـې زمـا سـره ډغـرې وهـي
زه يم چې ځان لره ځنځير او غرغرې جوړوم
بيا بـه وردانګـــودا ترون دى د (منګلـه ) سره
غليمه پـام کـړه نـن سبا درتـه جرګې جـوړوم

رالېږونکى: شعيب ورسجي

## ناساز گاری بخت

زیــب دارد بـعـد ازایــن، ایــن دیـدهٔ پرخـون مـرا
مـی بـرد ایـن جـوی خـون یکروزچـون جیحـون مـرا

کـی رسـد دیـوار چـین درعـزم مـن در عـشق تـو
تـا نـسازد از جــهان روزی اجــل بیــرون مـرا

مـن بـه یـک مـوی تـو جـانـانـم بـرابـر کـی کـنم
تخت شـاهـی گـر دهنـد یـا گـنج چـون قـارون مـرا

لیلی مـن چـون تـو رفـتی حـالـت مـن شـد خـراب
زیـن سـبب دادنـد یـارانـم لقـب مجنـون مـرا

مــن کــجا دارم دیـگـرمیـلـی بــرای زنـدگــی
بی تـو باشد ایـن جـهان چـون تـلخی افیـون مـرا

تا خـیالـت قـد دلجـویـت بیا یــد درنـظــر
تـازه گــردد زخـم دل چــون آفـت طاعــون مـرا

قــدر دان تـوسـت حبیـب انـدر تمـام عمـر خـویش
وصـف اخـلاق نیکویـت گشـتـه اسـت مضمـون مـرا

ارسالی: نجیم

## دانش

دانش، چراغ راه بشریت است.
اهل خرد و فرهنگ همیشه زنده اند.
هیچ حرفه ای شرافتمندتر از آموزش نیست.
آموزش به معنی افزایش درجه آگاهی انسان جهت بکارگیری در زندگی است.
خرد مند آنچه را که می گوید می داند.
دانش اندوزی تبلور ذهن توانا است.
ذهنت را در روشنایی دانش نگه دار ،در آن تاریکی جهل را نخواهی یافت.
گذشت زمان آدمی را پیر نمی سازد ، بلکه کهنه شدن آگاهی ها او را فرتوت می کند.
هدف آموزش ، آماده کردن فرد برای یادگیری مادام العمر است.
سخنان معلم وقتی اثر می گذارد که دانش آموز آماده باشد.

ارسالی محمد عباس

## مخلوط آب لیمو و آب گرم؛ ضامن سلامت بدن

اگر این مخلوط را به طور منظم مصرف کنید شاهد تأثیرات مثبت آن بر سلامت بدنتان خواهید بود. برای استفاده از این روش فقط آب یک عدد لیمو را درون یک گیلاس آب گرم بچکانید و از منافع آن بهره ببرید.لیمو سرشار از ویتامین C و پتاسیم است. ویتامین C می‌تواند سیستم دفاعی بدن را در برابر حملات ویروس آنفلوانزا افزایش داده و تقویت کند و پتاسیم نیز به نوبه خود به عملکرد مغز واعصاب کمک کرده و فشار خون را کنترول کند. نوشیدن آب همراه با لیمو نه تنها به روند کاهش وزن شما سرعت می‌بخشد، بلکه بدن شما را از سموم پاک کرده و باعث افزایش انرژی در شما می‌شود. ترکیب آب گرم و لیمو کمک خوبی برای هضم محسوب می‌شوند آب گرم می‌تواند دستگاه گوارش و حرکات حلقوی ماهیچه‌ای دیوار روده را تحریک کند باید گفت که لیمو ادرار آور است و باعث می‌شود عمل دفع نیز به راحتی صورت گیرد. به این ترتیب موجب سلامت بیشتر دستگاه ادراری خواهد شد. ویتامین C موجود در لیمو می‌تواند چین و چروک و لکه‌های پوستی را کاهش دهد. آب لیمو برای از بین بردن سمومی که موجب عدم سلامت پوست می‌شوند کاربرد مفیدی دارد. محققان مرکز ملی مطالعات قاهره می گویند: خون پس از نوشیدن آب لیمو با سرعت از رگ‌ها بالا می‌رود. همچنان برای گلو درد بهترین دارو لیمو است. یک قاشق چای‌خوری آب لیمو را در آب نیم گرم بریزید آن غرغره را کنید ورم گلو و گلو درد را برطرف خواهد کرد.

ارسالی احمد عزیر

## پدر

وقتی پشت سر پدرت از زینه ها پایین می آیی میبینی چقدر آهسته راه میرود ، میفهمی پیر شده ! وقتی صورتش را اصلاح میکند و دستش میلرزد ، میفهمی پیر شده ! وقتی بعد ازغذا دوا میخورد ، میفهمی چقدر درد دارد اما هیچ چیز نمیگوید... و وقتی میفهمی نصف موهای سفیدش به خاطر غصه های تو هست ، دلت میخواهد گریه کنی و بمیری.وقتی مریض میشدیم و داکتر میپرسید مریضیت چیست؟ منتظر پدر میشدیم و همیشه جواب دادن را به او میسپردیم چرا که میدا نستیم پدر و مادر همان احساسی را دارد که ما داریم حتی از خودما بیشتر درد مارا احساس میکردند.

پدرم!

در این روز آهم را ببین درد و غمم را شاهد باش ، هنوز باور ندارم که تو رفته ای ؛ هنوز دست احساس تراحس میکنم چون تو زنده هستی امروز با شاخه گلی سرخ ودستانی لرزان به دیدارت می آیم این اشک های من از سردلتنگی است دلتنگی برای بوسه زدن بر دستهای مهربانت کاش بودی امروز دلم آتش گرفت ودوباره جای خالی ات را حس کردم می دانم جای تو خوب است وفرشته های آسمان امروز را برایت جشن می گیرندآخر می دانم که بهشت زیر پای توست کاش فقط امروز نگاهت را داشتم خدایا کاش فقط یک بار دیگر آغوشش را داشتم.

ارسالی: عابده عابدی

## احمد مشاهد د پوهنې ځلوېښتم وزير

ګل آغا احمدي وردګ

ښاغلی احمد مشاهد په ۱۳۸۳ کال کې د لنډې مودې لپاره د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د پوهنې د وزير په توګه دنده اجرا کړې ده چې د ۱۳۸۳ کال د وږي له مياشتې څخه د همدې کال د مرغومې تر مياشتې د پوهنې وزير وو. ښاغلی احمد مشاهد د وکيل ايوب خان زوی دی په ۱۳۳۴ کال کې د تخار ولايت د ورسج د ولسوالي د ترشت په کلي کې زيږېدلی دی. ښاغلي مشاهد لومړنۍ زده کړې د تخار ولايت د نهرچمن په منځني ښوونځي او ثانوي زده کړې د همدې ولايت د تالقان په لېسه کې سر ته رسولې او په ۱۳۵۳ کال کې ترې فارغ شوی دی. ښاغلی مشاهد په ۱۳۵۴ کال کې د کابل پوهنتون د طب پوهنځي ته شامل شو چې د ترينګلو حالاتو له کبله په ۱۳۵۷ کال يې زده کړې نيمګړې پاتې شوې، چې بيا پاکستان ته ولاړ او



د اسلامي جمعيت په ګوند کې يې سياسي او نظامي فعاليت پيل کړ. ښاغلی مشاهد له ۱۳۷۱ کال وروسته د ۲ کلونو لپاره د صنايعو او خفيفه موادو د وزارت سرپرست وزير په توګه دنده اجرا کړې نوموړی په ۱۳۷۷ کال د تخار د والي په توګه و ټاکل شو او په ۱۳۸۰ کال کې په ايران کې د افغانستان سفير وو. ښاغلی مشاهد د افغانستان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کميسيون د رييس په توګه هم دنده اجرا کړې ده.

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 224, Month December 2017

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# زرګونه را ستانه شوي کډوال ماشومان ښوونځيو کې شامل شوي دي

د پوهنې وزارت د ټولنيز خوځښت او شوراګانو رياست د هلو ځلو په



پايله کې هېواد ته راستانه شوي څه باندې ۱۲ زره کډوال ماشومان په ښوونځيو کې شامل شوي دي. د يادو ماشومانو له ډلې چې په ننګرهار، کندهار او کابل ولايتونو کې د ښوونځيو شوراګانو په مرسته او همکارۍ ښوونځيو کې شامل شوي، چې ۴۰ په سلو کې يې نجونې دي.

په دې اړه له يادو ولايتونو څخه راغلو د ښوونځيو شوراګانو استازو او غړو د پوهنې وزارت د ټولنيز خوځښت او شوراګانو په رياست کې غونډه وکړه او پر دې وغږېدل، چې څنګه د افغان ولس بچيان د علم په ګاڼه سمبال کړي.

د ټولنيز خوځښت او شوراګانو رييس ښاغلي ضياءالحق ساپي له ګډونوالو او د شوراګانو له استازو منته وکړه، چې په دې هکله يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي. نوموړي ډاډ ورکړ، چې موږ ټول به د معارف د ښه والي لپاره کار کوو او د مکتب د عمر ماشومان، چې دا مهاَل له خپل اساسي حقونو څخه برخمن ندی؛ په شريکه به يې په ښوونځيو کې شاملوو.

د پروګرام ګډونوالو، علماو، مشرانو، خويندو او وروڼو، چې شمېر يې شاوخوا ۲۰۰ تنو ته رسېده په شريکه ددې کار ستاينه وکړه او هيله يې وښوده، چې بايد په دې برخه کې تر هرڅه ډېر کار وشي.

په ياده غونډه کې د ګډونوالو له لوري لازم وړانديزونه هم وشول، چې د پوهنې وزارت د ټولنيزو شوراګانو رياست لخوا يې د پوره کېدو ژمنه وشوه.

# د ارغنداب باغ ليسې ته نوې ودانۍ جوړېږي

د زابل ولايت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند باغ ښوونځي د نوې ودانۍ د جوړېدو چارې د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پيل شوې. ياده ودانۍ، چې رغنيزې چارې به يې په لنډ وخت کې سرته ورسېږي؛ اته درسي ټولګي، اداري خونې، د احاطې ديوال، د زده کوونکو لپاره مېز – څوکۍ، د څښاك د اوبو څاه، عصري تشنابونه او نورې ټولې اړينې اسانتياوې به ولري.

سږ کال د زابل ولايت لپاره د څلورو ښوونځيو د جوړېدو پروژې منظور شوې وې، چې د دريو رغنيزې چارې له وړاندې پيل شوي او نن يې د وروستۍ ښوونځي د بنسټ ډبره هم کېښودل شو.

د باغ لېسې د بنسټ ډبرې ايښودو په تړاو جوړو شويو مراسمو کې د پوهنې ولايتي چارواکو، د سيمې قومي مشرانو، ښوونکو او زده کوونکو برخه اخيستې وه. ددې ودانۍ له جوړېدو او پرانېستو سره به د ياد ښوونځي سلګونه زده کوونکو ته د زده کړو خوندي تدريسي چاپېريال برابر شي.

# تهدابگذاری تعمیر جدید ریاست معارف ولایت نیمروز

اخیراً سنگ تهداب تعمیر جدید ریاست معارف ولایت نیمروز با حضور محترم داکترسردار محمد رحیمی



معین سوادآموزی در حالیکه والی آن ولایت، رؤسای معارف و دیگر نهادهای دولتی و شماری از متنفذین قومی و استادان مکاتب نیز اشتراک داشتند، گذاشته شد.

تعمیر مذکور بصورت پخته و اساسی که داری ۳۲ باب اتاق، تالار کنفرانس زیر زمین و سایر ضروریات خواهد بود که از بودجه انکشافی وزارت معارف به ارزش ۵،۲۰ میلیون افغانی در مدت یکسال اعمار میگردد.

# پیام تسلیت

با اندوه فراوان اطلاع حاصل نمودیم که محترم استاد الحاج محمد عارف ابراهیمی فرزند محب الله ابراهیمی معاون مالی و اداری ریاست معارف ولایت قندز به اثر مریضی که عاید حالشان گردیده بود، داعی اجل را لبیک گفت.

انا لله و انا الیه راجعون

استاد الحاج محمد عارف ابراهیمی در سال ۱۳۵۷ خورشیدی در یک خانوادۀ متدین و تعلیم یافته در قریۀ باسوس و لسوالی حضرت امام صاحب و لایت قندز چشم به دنیا گشوده و دورۀ ابتدائیه مکتب را در لیسه شمشتو شهر پشاور پاکستان به اتمام رسانید و در سال ۱۳۸۲ از لیسه مرکزی ولسوالی امام صاحب سند فراغت بکلوریا را مؤفقانه بدست آورد.

محترم استاد ابراهیمی بعد از شمولیت در امتحان کانکور به پوهنتون تعلیم و تربیه ولایت قندز کامیاب و در رشته کیمیا از پوهنتون متذکره به درجه لیسانس فارغ گردید.

موصوف در سال 1388بعد از ختم تحصیلات عالی در متوسطه مرادشیخ آن ولایت به حیث معلم تقرر حاصل نموده.

محترم استاد الحاج محمد عارف ابراهیمی در سال ۱۳۸۹ بعد از امتحان رقابتی در بست سوم به حیث معاون مالی و اداری ریاست معارف ولایت قندز مقرر و تعیین گردید.

استاد تمام وظایف خویش را با نهایت صداقت، احساس وطندوستی و دلسوزی در امر بهبود کمی و کیفی معارف و با سواد سازی اولاد وطن ایفا وظیفه نموده است.

رهبری وزارت معارف افغانستان مرگ استاد محمد عارف ابراهیمی را یک ضایعه برای معارف افغانستان میداند و از خداوند عزوجل برای متوفی بهشت برین و برای خانواده و دوستانش صبر جمیل استدعا می کند.

# د بُست کلا ښوونځي نوې ودانۍ پرانېستل شوه

د هلمند ولايت د مرکز اړوند د قلعه بُست ښوونځي نوې جوړه شوې ودانۍ د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانېستل شوه. دغه ودانۍ ۶ درسي ټولګي، دوه اداري خونې، لابراتوار، د اوبو رسولو سيستم او نورې ټولې اړينې ښوونيزې اسانتياوې لري. پر دې ودانۍ د دولت له بوديجې شاوخوا ۴ نيم ميليونه افغانۍ لګښت راغلی، چې له پرانېستو سره يې د ياد ښوونځي سلګونه زده کوونکو ته د زده کړو خوندي تدريسي چاپېرياَل برابرشوی دی.د هلمند د پوهنې چارواکي وايي، چې په تېر يوه کاَل کې يې هلمند کې د ښوونځيو شېر دغسې ودانۍ جوړې او



پرانېستې دي ، چې له امله يې ددې ولايت زرګونه زده کوونکو ته د زده کړو مناسب چاپېريال برابر شوی دی.

ددغې ودانۍ د پرانېستو پر مهال د هلمند سرپرست والي، د پوهنې رياست چارواکو، د سيمې قومي مشرانو، ښوونکو او زده کوونکو ګډون کړی وو.

# د لوګر له يو شمېر ښوونځيو سره د خيمو مرسته وشوه

د لوګر ولايت د مرکز او ولسواليو له يو شمېر هغو ښوونځيو سره، چې ودانۍ نلري د شاوخوا ۸۰ خيمو مرسته وشوه.

د لوګر د پوهنې رياست د مالوماتو له مخې دغه خيمې، چې درې ميليونه او اته شپېته زره افغانۍ ارزښت لري، د ياد ولايت د کليو او پراختيا رياست لخوا مرسته شوې ده.

دا خيمې به هغو ښوونځيو ته ورکړل شي، چې ودانۍ نه لري.تردې وړاندې هم د لوګر له يو شمېر نورو ښوونځيو سره د مرسته کوونکو موسسو له لوري د خيمو مرستې شوې دي.

مسوول مدير: محمد نسيم "عياذ"

کتنپلاوي: محمد کبير حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار

خبريال: - محمد اشرف رسولي

کمپوز و ډيزاين بريالی رحمانزی

شمير: ۵۰۰۰

ديجيتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ايميل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د د اړيکو او عامه پوهاوي رياست، د پوهنې اوونيزې مديريت